مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

پوهنمل حاجي محمد نوزادي ۲۰۱۸/۰۲/۱۸

# په پښتو ژبي کي د ليکدود او ګړدود ستونزي
# ( لومړی برخه )

**د روان ۲۰۱۸ کال د فيبرورۍ په ۱۷ نيټه د افغانستان ملي تحريک ګوند په نوښت د يو شمير فرهنګپالو افغانانو لخوا د ډنمارک هيواد په Sønderborg ښار کي د مورنی ژبی د نړيوالي ورځي د درنښت او لمانځلو په موخه يو سيمينار په پام کي نيول سوی وو . سيمينار که څه هم د معمول سره سم تر ټاکلي وخت ډير وروسته پيل سو ، بايد ووايم چي ښه پر مخ ولاړ او د ځينو ويناوالو په خبرو کي و ډيرو مهمو او اړينو ته ټکيو ته پام اړول سوی وو . په سيمينار کي زما د وينا متن دادی پدې توګه تر مينه والو  پوري رسوم :**

دا يو څرګند حقيقت دي چي پښتو ژبه نن هغه د نژدې يوي پيړۍ وړاندي ژبه نده . پښتو ټولنه يوازنۍ مؤسيسه وه چی د خپل نامه سره يې سم کار وکړ ، پښتو يې تر لويه بريده پر خپلو پښو و دروله او يو په بل پسې يې د سيالۍ په لور بوتله . د پښتو ټولني د زيارونو سره سره دا خبره به ډير پر ځای نه وي که موږ دا ژبه نن لکه دري ژبه چي ده ، يوه سياله او معياري ژبه وبولو .

لکه څنګه چي وينو پدې ژبه کی د « ی » ګانو ستونزه که څه هم د پنځه ګونو « ی » ګانو په مټ تر لوړي کچي حل شويده ، مګر لا تر اوسه هم د داسی کلمو د پاره لکه « **خدای** ، **ځای** » او نورو ورته ږغونو د پاره د يوې مناسبي « ی » کمبود پر ځای پاته دی . د « ی » ګانو بله ستونزه تخنيکی او د نه مراعات خبره ده . تخنيکي اړخ يې دادي چي نژدي ټولي « ی » ګاني په کيبورډونو کي د شيفت د لاری کارول کيږي چي وخت نيسي او دليکلو چټکتيا ټيټوي . که دا ستونزه يوه طبعي او تخنيکي ستونزه و ګڼو ، په ښوونځيو او مدرسو کي دغه اړينه موضوع سپکه نيول او نه ټينګار ددې لامل ګرځي چي شاګردان يې مراعات کول حتمي و نه ګڼي او ليکلو کي يوازی په يوه « ی » بسنه وکړي .

بله دا ډول ستونزه د **( ږ )** او **( ښ )** توري دي چي د جنوب لويديزو سيمو پښتانه يې په طبعي ډول د خپلي لهجي سره سم په **( ګ )** او **( خ )** تلفظ کوي خو په ليکلو کي بايد هم هغه **( ږ )** او **( ښ )** وليکل شي ، مګر دا مهال يې ځيني لوستی کسان هم په ليکلنو کي د **( ګ )** او **( خ )** توري کاروي چي دا کار د منلو ندي . دا ځکه د يوي خوا پر دوو سوچه پښتو تورو باندي خاوري اړوي او د بل پلوه پدې کار سره په لوی لاس د واحد ليکدود مخه نيسي او د ژبي د معياري کولو پروسه ورانوي چي دا کار يې د ژبي سره دښمني ده .

له دې نه که تير شو ، په پښتو ژبي کي دا اوس هم تر ټولو لويه ستونزه د ګړدود او ليکدود ده چي دغه دوه توکي په نيغه تر ډيره حده د نوموړي ژبي د معياري کولو زنې جوړوي او ددغي ستونزي د حل نه پرته يې معياری کول اسانه کار ندی . زما په آند په پښتو ژبپوهنه کي دغه د معيار او معياری کولو خبره هغه څه دي چي بايد دا ګړی د پښتو ژبپوهانو د بيړنيو او ځنډ نه منونکي لومړيتوبونو د لست په سر کي راشي .

سره له دې چي دا ګړی داسی پياوړي څيړونکي لکه پوهاند ډاکتر صاحب زيار او دده وتلی شاګرد محمد معصوم هوتک د پښتو پر معياری کولو باندی کار کوي ، خو داچي د دوی کارونه يو دبل سره په همږغي کی ندي ، پايله يې لکه څنګه چي تمه کيږي ، هغومره محسوس نده . له بده مرغه کله نا کله خو لا دوي خپله انرژی يو د بل په وړاندي کارولي ده . زيار صاحب يو د ډګرۍ ځښتن ژبپوه دي او دده پشان کسان په پښتو ژبپوهنه کي ډير لږ دی ، ټوله ځواني يې د پښتو په چوپړ کي تيره کړه . د پښتو په **ايتيمولوژۍ** ( **آرپوهنه** ) او **نيولوجيزم ( نوی لغات جوړونی )** کي د پام وړ لاسته راوړني لري . وياړم چي د ښې دوستۍ اړيکي ور سره لرم . هوتک صاحب د ښوونځۍ له وخته پيژنم ، را باندي ګران دی او درناوی ورته لرم ، د لوړ استعداد درلودونکي ليکوال او څيړونکي دي ، په لسګونو درانه کتابونه يې ليکلی او خپل ټول وخت او ژوند يې همدې کار ته ايستلی دی . د پښتو د معياري کولو په



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په څير و لولئ

اړوند د **« پر معیاری ژبه د معیار په ژبه یوه څېړنه »** پنامه دده یو کتاب ډېر مهم دی او ددې برخي څېړونکي يې باید په پام کې ولري .

که څه هم له نیکه مرغه پښتو ژبې اوسمهال د نوي تکنالوژۍ پر لمن په کمپيوټر او ګوګل کي ځانته ځای پیدا کړی دی خو له بده مرغه د معیاری توب د نشتوالي لامله يې پیکه څېره روښانه شوې نده . ځکه نو ددې ژبي په اوسني پړاو کي پکار ده له هرڅه نه وړاندي د معیار چارو ته جدي پام واړول شي .

د لومړۍ برخي پای

نور بیا



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ